مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱٦۵** (از ۲۵ ثور الی اول جوزا ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه........ ۲

**از پنجمین نشست چهارجانبه تا مسودهٔ صلح با حزب اسلامی**

- وعده‌های مکرر پاکستان........ ۴
- پنجمین نشست گروه هماهنگی چهارجانبه........ ۴
- آیندهٔ مذاکرات چهارجانبه........ ۵
- گفتگوهای صلح با حزب اسلامی........ ٦
- راه‌کار صلح حکومت افغانستان........ ۷

**افغان-چین اړیکې او د ورېښمو نوې لاره**

- ملي وحدت حکومت او کابل-بیجینګ اړیکې........ ۹
- چین ته د اجرائیه‌رئیس سفر........ ۱۰
- د ورېښمو نوې لاره........ ۱۱

## مقدمه

د افغان سولې بهیر په اړه د څلوراړخیزو خبرو اترو پنځمه غونډه له تقریباً اوږده ځنډ وروسته په اسلامآباد کې جوړه شوه. په دغه غونډه کې د معمول په څېر د افغانستان، پاکستان، چین او امریکا استازو ګډون کړی و، خو دا ځل د افغانستان په استازیتوب په اسلامآباد کې د افغانستان سفیر او د ولسمشر ځانګړي استازي عمر زاخېلوال ګډون وکړ. په دې غونډه کې څه تېر شول؟ له طالبانو سره د افغان حکومت د سولې په تړاو به څه پایله ولري؟ او په ټوله کې د حکومت د سولې تګلاره په کوم لوري روانه ده؟

له دغې غونډې سره هممهاله، د حکمتیار تر مشرۍ لاندې اسلامي حزب سره د سولې د هوکړهلیک مسوده هم له دوو میاشتو خبرو اترو وروسته د حکومت له خوا نهایي او د دغه ګوند پلاوي ته وسپارل شوه. خو دا چې ایا دا مسوده به دواړو لورو ته د منلو وړ شي کنه؟ او بالاخره به له حزب اسلامي سره خبرې اترې کوم ځای ته ورسېږي، دلته پرې شننه کوو.

د تحلیل په دویمه برخه کې، د افغان-چین اړیکو او د ورېښمو د نوې لارې په اړه لولئ. د افغانستان اجرائیه رییس ډاکتر عبدالله تېره اونۍ د یوه جګپوړي پلاوي په مشرۍ چین ته په درې ورځني سفر ولاړ او هلته یې د دغه هېواد له ولسمشر، مرستیال ولسمشر، لومړي وزیر او یو شمېر سوداګرو سره وکتل. په دغه سفر کې د دواړو لورو ترمنځ په اقتصادي، سوداګریز او تخنیکي ډګرونو کې په تېره بیا د ورېښمو د نوې لارې په اړه د همکاریو شپږ سندونه هم لاسلیک شول.

د اونۍ تحلیل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د اونیز تحلیل د څانګې، شننې او څېړنې لولئ.

# از پنجمین نشست چهارجانبه تا مسودۀ صلح با حزب اسلامی




دور پنجم مذاکرات چهارجانبۀ صلح میان افغانستان، پاکستان، چین و امریکا پس از یک وقفۀ سه ماهه، در اسلام‌آباد برگزار گردید. وزارت خارجۀ پاکستان با نشر اعلامیه‌ای[1] هدف این نشست را چگونگی تطبیق نقشۀ راه صلح که در نشست‌های قبلی نهایی شده بود، اعلام کرد.

این نشست در حالی برگزار می‌گردد که توافق‌نامۀ صلح با حزب اسلامی (حکمتیار) از سوی حکومت افغانستان نهایی شده و مسودۀ آن رسماً به هیأت مذاکره‌کنندۀ آن حزب تحویل داده شده است.

پس از آنکه طالبان از اشتراک در نشست‌های چهارجانبه امتناع ورزیدند و عملیات بهاری خویش را تحت نام "عمری" آغاز کردند، به خصوص پس از حملۀ خونین گروهی در کابل، راه‌کار صلح حکومت وحدت ملی تغییر یافت و جنگ را اولویت فعلی حکومت خواند. پرسش اینجاست که پس از نشست پنجم مذاکرات چهارجانبۀ صلح تا چه حد امکان از سرگیری مذاکرات صلح با طالبان وجود دارد؟ و نیز گفتگوهای صلح با حزب اسلامی حکمتیار به کجا خواهد انجامید؟

---

[1] «تطبیق نقشۀ راه، آجندای نشست اسلام‌آباد» جزئیات بیشتر در لینک زیر:
http://www.darivoa.com/a/quadrilateral-meeting-will-discuss-peace-map-in-islamabad-today/3335207.html

## وعده‌های مکرر پاکستان

گروه هماهنگی چهارجانبه در سومین نشست[2] مذاکرات چهارجانبه که به تاریخ ٦ فبروری ٢٠١٦ در اسلام‌آباد برگزار گردید، توافق نمود که پاکستان تا پایان ماه فبروری طالبان را به میز مذاکره با حکومت افغانستان حاضر خواهد کرد. سپس در نشست چهارم[3] که به تاریخ ٢٣ فبروری در کابل برگزار شد، تعهد پاکستان مبنی بر حاضر کردن گروه طالبان به گفتگوهای مستقیم صلح با حکومت در هفتهٔ اول ماه مارچ، بار دیگر تکرار شد.

همچنان در این نشست توافق صورت گرفت که هر چهار کشور به ویژه پاکستان اقدامات جدی را علیه گروه‌های که حاضر به مذاکرات نیستند، روی دست بگیرند.

طالبان این پروسه را با نشر اعلامیه‌ای[4] در ٥ مارچ ٢٠١٦ تحریم کردند و پاکستان نتوانست طالبان را به میز مذاکره با حکومت وحدت ملی حاضر کند. حکومت افغانستان ادعا دارند که پاکستان به تعهدات خویش عمل نکرده است و تاکید دارد، بر ضد طالبانی که به گفتگوهای صلح حاضر نیستند، باید از سوی پاکستان اقدامات نظامی صورت بگیرد. از همین‌رو، فضای بی‌اعتمادی میان حکومت‌های افغانستان و پاکستان به دلیل عملی نشدن تعهدات پاکستان، حاکم شد. ولی زمانی که ریاست محافظت و امنیت رجال برجسته مورد انفجار و حملهٔ گروهی قرار گرفت، روابط میان دو کشور به صورت بی‌سابقه در یک و نیم سال اخیر تنش‌آلود گشت.

## پنجمین نشست گروه هماهنگی چهارجانبه

از یک ماه به این‌سو و پس از متشنج شدن روابط کابل و اسلام‌آباد، مقامات پاکستانی از آغاز دوبارهٔ مذاکرات چهارجانبه سخن می‌زدند. سرتاج عزیز مشاور امنیت ملی پاکستان پس از حملهٔ خونین در کابل، در دیدار با وزیر مهاجرین افغانستان در اسلام‌آباد و در در پنجمین کنفرانس "سیکا" در بیجینگ در ملاقات با "وانگ یی" وزیر امور خارجهٔ چین بر ادامهٔ کار گروه همکاری‌های چهارجانبه تأکید نمود.

---

[2] «اعلامیهٔ مشترک سومین نشست گروه هماهنگی چهارجانبه» به وب سایت وزارت امور خارجهٔ افغانستان مراجعه نمایید:
http://mfa.gov.af/fa/news/joint-press-release-the-third-meeting-of-the-quadrilateral-coordination-group-qcg-of-afghanistan-pakistan-the-united-states-and-china

[3] اعلامیهٔ مشترک چهارمین نشست گروه هماهنگی چهارجانبه» به وب سایت وزارت امور خارجهٔ افغانستان مراجعه نمایید:
http://mfa.gov.af/fa/news/joint-press-release-the-fourth-meeting-of-the-quadrilateral-coordination-group-qcg-of-afghanistan-pakistan-the-united-states-and-china

[4] برای متن کامل «اعلامیهٔ عدم مشارکت نماینده گان امارت اسلامی در نشست‌های چهارجانبه» به وب سایت طالبان مراجعه نمایید:
http://alemara1.org/?p=43364

بالآخره نشست پنجم گروه همکاری چهارجانبه به تاریخ ۱۸ ماه می ۲۰۱٦ در اسلام‌آباد برگزار گردید و عمر زاخیلوال سفیر افغانستان و نمایندۀ ویژۀ رئیس جمهور در اسلام‌آباد، در این نشست به نماینده‌گی از افغانستان اشتراک ورزید. به نماینده‌گی از پاکستان اعزازاحمد چودری سکرتر وزارت خارجۀ این کشور، ریچارد ولسن نمایندۀ ویژۀ امریکا برای افغانستان و پاکستان به نماینده‌گی امریکا و دینگ ژوجون نمایندۀ چین در امور خارجی به نماینده‌گی از بیجینگ در این نشست شرکت داشتند.

این نشست نیز مانند نشست‌های گذشته، با فراخوان صلح در افغانستان پایان یافت و جهت‌های شرکت کننده به تعهد شان برای حمایت از مذاکرات و یافتن راه حل سیاسی برای پایان جنگ در افغانستان تاکید مجدد ورزیدند. در این نشست حملۀ ۱۹ اپریل در شهر کابل نیز تقبیح شد و نماینده‌گان چهار کشور تعهد نمودند که برای رسیدن به صلح در افغانستان از تمامی امکانات و نفوذ دست داشتۀ خویش استفاده خواهند کرد. بیانیۀ مشترک گروه هماهنگی چهارجانبه اینبار در مورد تاریخ گفتگوها با طالبان چیزی نگفته و بربنیاد این بیانیه، نشست بعدی با مشوره تمام اعضای این گروه چهارگانه برگوار خواهد شد.[5] در این نشست روی تطبیق تعهدات قبلی در چهار نشست گذشته نیز هیچگونه اشاره نشده است.

از آنجاییکه حکومت افغانستان هیئتی را از کابل به هدف اشتراک در این نشست نفرستاد، نشانگر آن است که این نسشت در فضای بی‌اعتمادی برگزار گردید و حکومت اهمیتی به آن قایل نشد. دواخان مینه‌پال معاون سخنگوی رئیس جمهور به رسانه‌ها گفته است که خواست حکومت افغانستان این است که پاکستان اول تعهداتی که در نشست‌های چهارجانبه سپرده است، عملی کند.

## آیندۀ مذاکرات چهارجانبه

پس از آنکه پاکستان در آوردن طالبان به پای میز مذاکره با حکومت افغانستان موفق نشد و انفجار مرگباری نیز در کابل رخ داد، رئیس جمهور افغانستان در نشستی در شورای ملی افغانستان گفت که پس از این اعتمادی بر پاکستان ندارد و از پاکستان توقع آوردن طالبان به میز مذاکره را ندارد.[6] مشاور امنیت ملی پاکستان در پاسخ به اظهارات غنی در قبال پاکستان گفت که آوردن طالبان به پای میز مذاکرات تنها کار پاکستان نیست.

---

[5] اعلامیۀ مشترک پنجمین نشست گروه هماهنگی چهارجانبه:
http://www.mofa.gov.pk/pr-details.php?mm=MzcyNQ,,

[6] متن سخنرانی رئیس جمهور غنی در شورای ملی:
http://president.gov.af/ps/news/76964

به همین دلیل، در حال حاضر ادامهٔ نشست‌های چهارجانبه (نشست پنجم) بیشتر به هدف زمینه‌سازی برای بهبود دوبارهٔ روابط میان دو کشور می‌باشد، چون پس از دور چهارم مذاکرات چهارجانبه روابط کابل و اسلام‌آباد روبه تیره‌گی نهاده است.

در کل، آیندهٔ مذاکرات چهارجانبه برای آغاز گفتگوهای صلح با طالبان تاریک به نظر می‌رسد، چون از یک سو مقامات پاکستانی می‌گویند که کشاندن گروه طالبان به پای میز مذاکره تنها وظیفهٔ پاکستان نیست و از سوی دیگر، طالبان نیز این پروسه را تحریم کرده است.

## گفتگوهای صلح با حزب اسلامی

پس از آنکه طالبان از اشتراک در مذاکرات چهارجانبه امتناع ورزیدند، گفتگوها میان حکومت افغانستان و حزب اسلامی به رهبری حکمتیار آغاز شد و این حزب هیأت مذاکره‌کنندهٔ خویش را به کابل فرستاد. پس از دو ماه گفتگوها مسودهٔ توافق‌نامهٔ صلح میان حکومت و هیأت حزب اسلامی از جانب حکومت افغانستان نهایی گردید که دارای سه فصل و ۲۵ ماده می‌باشد و برای فرستان به حکمتیار، به هیأت مذاکره کنندهٔ حزب اسلامی تسلیم داده شده است. این مسوده از سوی رئیس شورای عالی صلح به امضا رسیده است که به معنای امضای توافق نهایی نیست.

در کنار این متنی که ادعا می‌شود به هیأت حزب اسلامی به عنوان مسودهٔ نهایی از جانب حکومت سپرده شده، در رسانه‌ها نیز انتشار[7] یافته است. نظر به پیش‌شرط‌های حزب اسلامی[8] ابهاماتی در این مسوده وجود دارند و توافق روی آن زمانی را دربر خواهد گرفت.

در مادهٔ چهارم این مسوده آمده است که هر دو جانب از خروج نیروهای خارجی از افغانستان حمایت می‌کنند، اما در مورد تعیین تاریخ خروج این نیروها که یکی از پش‌شرط‌های حزب اسلامی می‌باشد، چیزی گفته نشده است. همچنان در مادهٔ پنجم این مسوده آمده است که حکومت افغانستان پس از امضای توافق‌نامه «اقدام به درخواست» حذف نام‌های حکمتیار و اعضای حزب اسلامی از لست سیاه سازمان ملل متحد و کشورهای دیگر می‌کند. ولی در این مورد

[7] «د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د ممکنه د ممکنه هوکړه‌لیک متن»:
http://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2016/05/160518_ns_afg_peace_agreement

[8] برای پیش‌شرط‌های حزب اسلامی، به صفحهٔ انترنتی این حزب مراجعه نمایید «حزب اسلامی و صلح»:
http://www.dailyshahadat.com/index.php/site/editorial_details/347

از هیچ نوع تضمینی یادآوری نشده، در حالیکه مصئونیت قضایی رهبر و اعضای حزب اسلامی از اساسی‌ترین پیش‌شرط‌های حزب اسلامی به شمار می‌رود.

باآنکه گفته می‌شود حلقاتی در پروسهٔ آشتی حزب اسلامی و حکومت افغانستان موانعی ایجاد می‌کنند، ولی باز هم این گفتگوها در صورت توافق دو طرف روی این دو مورد، نتیجهٔ مطلوبی را در پی خواهد داشت.


## راه‌کار صلح حکومت افغانستان

راهکار صلح حکومت وحدت ملی با طالبان، بر کشورهای منطقه به خصوص پاکستان متکی است. گرچند نقش کشورهای منطقه در تامین صلح در افغانستان مهم است، ولی تکیه بر کشورهای دیگر چنانچه مذاکرات چهارجانبه نشان داد، نتیجهٔ مطلوبی را ببار نخواهد آورد.

اینکه چرا طالبان باوجود تلاش‌های حکومت به میز مذاکره با حکومت افغانستان حاضر نشدند، عامل اصلی آن راهکار کنونی حکومت برای صلح و تکیه بر کشورهای دیگر می‌باشد. طالبان تاکید دارند که دفتر سیاسی آن‌ها در قطر یگانه مرجعی است که به نماینده‌گی از آن‌ها گفتگوهای صلح را به پیش برده می‌تواند. همین دلیل بود که از اشتراک در گفتگوهای چهارجانبهٔ صلح که به میانجیگری پاکستان آغاز یافته بود، امتناع ورزیدند.

با توجه به تجارب گذشته، نه تاکید بر جنگ راه‌حل است و نه هم تکیه بر دیگران. بنابراین، برای آغاز گفتگوهای رودررو با طالبان نیاز ورود از در دفتر قطر برای مذاکرات صلح دیده می‌شود. باآنکه آغاز گفتگوهای صلح با طالبان به این زودی‌ها، دشوار به نظر می‌رسد، ولی لااقل حکومت باید از طریق یک گروه بی‌طرف میانجی افغان، به گفتگوهای رودررو با طالبان اقدام نماید.

# افغان-چين اړيکې او د وريښمو نوې لاره



تېره اوونۍ د افغانستان اجرائيه رييس ډاکتر عبدالله د چين د لومړي وزير په رسمي بلنه په يوه درې ورځني سفر چين ته ولاړ. دا سفر داسې مهال ترسره کېږي، چې له يوې خوا د پاکستان لوی درستيز جنرال راحېل شريف هم د چين په سفر کې دی او له بلې خوا د څلور اړخيزو ناستو پنځمه غونډه هم په اسلام‌آباد کې جوړه شوه.

د اجرائيه رييس په دغه سفر کې د افغانستان او چين ترمنځ د ترانزيټ، تجارت، اقتصاد او کرنې په برخو کې شپږ هوکړه‌ليکونه هم لاسليک شول، چې تر ټولو مهم يې د وريښمو لارې په اړه هوکړه‌ليک و.

دا چې د ډاکتر عبدالله دغه سفر به د کابل-بيجينګ پر اړيکو څه اغېزه وښندي، د سولې پروسې په بيا پيلولو کې به څه اغېزې ولري او هېواد به په ريښتينې ډول د «يو سړک-يوه کړۍ» برخه کړي او که نه؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته پرې شننه کوو.

## ملي وحدت حکومت او کابل-بيجينګ اړيکې

د ملي وحدت حکومت  له جوړېدو راوروسته افغان-چين اړيکې د نورو کلونو په پرتله ډېرې نږدې شوې؛ ځکه افغان ولسمشر اشرف غني خپل لومړنی رسمي سفر له چين څخه پيل کړ او د سولې په قضيه کې د چين د مرستې غوښتونکی شو.

په ۱۳۹۴ کال کې د افغانستان او چين ترمنځ د لوړ پوړو چارواکو سفرونه زيات شول او کابل ته يو شمېر چينايي وزيرانو، د چين مرستيال ولسمشر "لي يوانچاو" او د چين د پوځ لوی درستيز سفر وکړ. همدا راز چينايي لوړپوړو چارواکو د له لوړپوړو افغان چارواکو سره د ځينو نړيوالو کنفرانسونو په څنډو کې هم وليدل (لکه د شانګهای غونډې). د دې ترڅنګ چينايي چارواکو د افغانستان په اړه جوړو شويو نړيوالو کنفرانسونو او غونډو کې هم برخه واخيسته (د بېلګې په ډول، د آسيا زړه کنفرانس-اسلامآباد؛ د افغانستان-پاکستان-چين-امريکا په څلور اړخيزو ناستو او د پاکستان-افغانستان-چين درې اړخيزې غونډې).

په بل اړخ کې د افغانستان لهخوا اجرائيه رييس ډاکتر عبدالله، د بهرنيو چارو وزير صلاح الدين رباني او د ملي امنيت سلاکار حنيف اتمر هم چين ته په رسمي سفرونو ولاړل.

تېر ۱۳۹۴ کال افغان-چين اړيکې مياشت په مياشت د ښه کېدو په لور ولاړې او په تېره يوه لسيزه کې د افغانستان په دوهاړخيزو اړيکو کې همدا يوازېنۍ اړيکې وې، چې له بېثباتۍ سره مخ نه شوې. دغه راز په تېر کال کې د افغانستان او چين ترمنځ په نظامي ډګر کې هم همکاري زياته شوه او د افغانستان له خوا د ملي امنيت سلاکار حنيف اتمر او د کورنيو چارو وزير نورالحق علومي چين ته سفرونهوکړل او په امنيتي برخو کې د چين او افغانستان ترمنځ څلور تفاهمنامې لاسليک شوې، چې د يوې تفاهمنامې له مخې به چين د کابل په څلورو دروازو کې امنيتي دروازې نصب کړي.

په بل اړخ کې د چين لوی درستيز جنرال "فانګ فنګ هوی" هم د ۲۰۱٦ کال د فبرورۍ په ۲۹مه افغانستان ته په يوه نااعلان شوي يو ورځني سفر راغی او له لوړ پوړو افغان چارواکو سره يې وليدل. په دغه سفر کې د چين لوی درستيز نه يوازې دا چې له افغانستان سره د ۷۳ مليون ډالرو مرستې ژمنه وکړه، بلکې د "ترهګرۍ" پرضد د چين-پاکستان-افغانستان-تاجکستان د ګډې مبارزې طرحه يې هم وړاندې کړه او دا يې هم وويل، چې چين به د "تروريزم" پرضد د افغان ولسمشر طرحې په اړه، په راتلونکې اوړي کې يو نړيوال کنفرانس هم جوړ

کړي. د چين لوی درستيز افغانستان ته داسې مهال سفر وکړ، چې په سيمه کې د «يوې لارې-يوې کړۍ» او «چين-پاکستان اقتصادي دهليز» د بيجينګ دوې اساسي اقتصاد محوره پاليسۍ هم د عملي کېدو په درشل کې دي.

## چين ته د اجرائيه رئيس سفر

د افغانستان اجرائيه رييس د چين د لومړي وزير په رسمي بلنه د مې مياشتې په ۱۵مه، دغه هېواد ته په خپل دويم رسمي سفر ولاړ. دغه درې ورځنی سفر داسې مهال ترسره شو، چې د پاکستان لوی درستيز راحېل شريف هم چين ته په رسمي سفر ولاړ او هلته يې له چينايانو سره د پاکستان-چين اقتصادي حوزې د امنيت په اړه خبرې اترې وکړې.

د افغانستان اجرائيه رييس ډاکتر عبدالله هم په چين کې د سولې پروسې د بيا پيلولو او پر پاکستان د چين فشار د زياتېدو په موخه د چين له لوړپوړو چارواکو يو ځل بيا غوښتنه وکړه. په همدې تړاو ده د يوې پوښتنې په ځواب کې وويل: «موږ دا توقع لرو، چې د هر ډول تاثير او نفوذ نه کار واخيستل شي، ترڅو په افغانستان کې سولې او امنيت ته زمينه برابره شي.»

د دغه سفر پرمهال افغان لوري د چين په لور خپله تګلاره نوره هم روښانه کړه او د سوبل په سمندرګي کې يې د چين له دريځ څخه ملاتړ څرګند کړ او ترځنګ يې د شپږو هوکړهليکونو د لاسليک کولو له کبله د کرنې، تجارت او ترانزيټ په برخو کې د اړيکو نږدې کېدلو هڅه هم وشوه.

د دغو هوکړهليکونو له مخې به چين په کابل پوهنتون کې يوه ودانۍ جوړه کړي، چين ته به د زعفرانو تجارت پيل شي، له افغانستان سره به ۵۰۰ ميليون يوان تخنيکي او ۵۰ مليون يوان بشري مرستې وشي، او افغانستان به د چين د ورېښمو طرحې "يو سړک، يوه کړۍ" برخه شي.

## د وریښمو نوې لاره

په ۲۰۱۳ کال چې کله په چین کې واک له څلورم نسل څخه پنځم نسل ته انتقال شو، نو "شي جینپینګ" د چین ولسمشر شو. شي جینپینګ داسې مهال چې د چین اقتصادي وده مخ په ځوړ روانه وه، له ځان سره د لویو اقتصادي پروژو طرحې راوړې او د عملي کولو لپاره یې ګامونه پورته کړل. یوه له دغو طرحو څخه د وریښمو لارې بیا احیا یا بیا جوړونه ده.

د وریښمو لارې دغه طرحه به له دوو لارو څخه تېرېږي؛ د وچې او اوبو له لارې.

د وچې له لارې به دغه طرحه له چین څخه پیلېږي، له منځنۍ اسیا او ایران څخه په تېرېدو به منځني ختیځ او اروپا ته رسېږي. افغانستان له پیله هڅه کوله، چې د چین په دغه طرحه کې شامل شي؛ خو اوس یې په عملي ډول له چینایي لوري سره د «یوه سړک یوې کړۍ» هوکړهلیک لاسلیک کړ.

د دغه هوکړهلیک او د وریښمو په لاره کې د افغانستان له ګډون سره به پر افغانستان مثبتې اغېزې وښندل شي. ځکه له دې کبله به افغانستان د سیمهییز تجارت او ترانزیټ پر ډګر بدل شي، په افغانستان کې به د زیربناو (سړکونو، ریل کرښو) جوړونه کې پانګونې وشي، چې دا به بیا د اقتصادي ضربي تاثیر (Multiplier effect) له کبله د افغانستان پر اقتصاد څو چنده مثبتې اغېزې ولري.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.